# پښتو افسانې ته د همېش خلیل بخښنې

**Contribution of Hameesh Khalil in the Pashto Fiction**:

جاوېد اقبال اقبال


## Abstract:

Hamaish Khalil is a well known researcher, critique & poet and prose writer. He has been one of the outstanding writers in the second period of Pashto fiction (1947-1980s). He has introduced some interesting dimensions with regards to the techniques and themes in the mainstream Pashto fiction, particularly short stories on the third (leading) period of Pashto fiction. This paper is going to analyze the impacts of the techniques and thematic approach of his collection of short stories named "Chargul". This collection has been of vital importance for evaluating and contextualizing his thoughts and techniques. Hence the paper is mainly relaying on this particular collection.


په فني او فکري لحاظ د پښتو افسانې دوېم دور ښېرازه دور بللے شي په دغه دور کښې پښتو افسانه کښې ډېرې نوې نوې تجربې وشوې، او نوو نوو رجحاناتو په کښې ځاے وموند. د دغو متنوع او نوو موضوعاتو سره سره فني جدت له مخې هم پښتو افسانې ډېره زیاته وده وکړه، دا د پښتو افسانې خوش قسمتي ده چې د ارباب رشید احمد خان، میر مهدي شاه مهدي، قلندر مومند ، ګل افضل خان، زیتون بانو او طاهر اپرېدي وغېره غونډې سترو افسانه نګارانو دې فن ته توجه وکړه او پښتو افسانه یې د نورو پرمختللیو ژبو د ښو افسانو په قطار کښې ودروله.

ښاغلے همېش خلیل هم د پښتو افسانې د دوېم دور سره تعلق لري او د دغه دور د سترو افسانه نګارانو د وړومبي فهرست د سر په کسانو کښې شامل دے، چې د فن او مقصدیت له مخه یې پښتو افسانې ته دومره اهمې بخښنې کړې دي چې د افسانوي ادب محقق یې په هیڅ توګه نظر انداز کولے نۀ شي. ځکه چې نه یواځې هغۀ په فني لحاظ د افسانې بنیادونو ته تقویت

ورکړې دې بلکې په موضوعاتي لحاظ يې پښتو افسانه کښې د تنوع راوستلو شعوري هڅې هم کړې دي.

همېش خليل تولې ديارلس افسانې ليکلې دي چې نهه پکښې د هغهٔ افسانوي مجموعه "چارګل" کښې چاپ دي. د چارګل چاپ کېدو نه وړاندې د همېش خليل يوه افسانه "پانسي" په مياشتنۍ رساله "پښتو" کوئټه کښې شائع شوې ده. دوه نورې افسانې "د يو سياسي قېدي مرګ" په 25 جنوري 1952ء او "رامرکۍ" ئې 12 دسمبر 1952ء کښې اولسي ادبي جرګه کښې تنقيد ته وړاندې کړې وې. ذکر شوې تنقيدي ناستې د "اسلم" مجلې په دفتر کښې شوې وې. يوه افسانه "سانده ګره" ئې د خپل کتاب نه پس تخليق کړې ده چې په وړومبي ځل مياشتنۍ مجله "سباؤن" اګست 2002ء کښې چاپ شوې ده. په دغو ټولو افسانو کښې يوه د "اخري سبق" په نوم د فرانس د افسانه نګار الفانسې ډوډې د افسانې ترجمه ده او نورې ئې طبع زاد دي. د افسانو مجموعه ئې د "چارګل" په نوم په فروري کال 1973ء کښې چاپ کړې ده چې د هغه وخت نومېالي نقاد فضل حق شېدا پرې سريزه ليکلې ده. د خپلو دغو افسانو پس منظر ښاغلے همېش خليل په دې ټکو ښائي:

"چارګل" زما د افسانو وړومبۍ مجموعه ده. ټولې افسانې د کال 1961ء د ګرفتارۍ نه پس ما د خپل درې کلني قېد په دوران کښې په مختلفو جېلونو لکه سنټرل جېل مچ، سنټرل جېل ډېره اسماعيل خان او سنټرل جېل هري پور کښې ليکلې دي ............ دې افسانو کښې د اکثرو پلاټونه د اګاهو نه د ځينو مشاهدو په وجه زما په ذهن کښې وو. ولې په خپل بې قراره ژوند کښې د وخت د کمي له کبله دغه افسانې دغې نه مخکښې ما و نهٔ ليکلې شوې. البته د "مينه" پلاټ د خپل يو سياسي بندي ملګري د مينې نتيجه وه. هر کله چې "وينه" هم د دغه شان يوې حادثې زېږون دے. پرته له دې نه "يو حقيقت يو افسانه" په افسانوي رنګ کښې د يو حقيقت ليکلو کوشش دے چې په کال 1963ء کښې د ډېرو په زندان کښې زمونږ د يو سياسي بندي ملګري د شهادت نه پس زهٔ په ليکلو مجبور کړم". (1)

## د همېش خلیل د افسانو ډکشن او فني تېکنیک

ښاغلي همېش خلیل د اردو افسانو غرقه مطالعه کړې ده، دې سره سره یې د انګرېزي افسانې هم تر څهٔ حده پورې مطالعه هم دغه وجه ده چې هغهٔ په خپلو افسانو کښې د فني توکو ډېر زیات خیال ساتلے دے. د هغهٔ د هرې افسانې تمهید ډېر زړهٔ راښکونکے دے. دې سره سره ژوندی کردارنګاري، تجسس، په زړهٔ پورې کلائمکس او اینتهي کلائمکس نه علاوه د واقعاتو منطقي ترتیب هم د دهٔ افسانوي مجموعه "چار ګل" بې مثاله جوړه کړې ده. لکه جوته ده چې د چارګل اکثرې افسانې بیانیه دي ځکه خو همېش صاحب په دغو افسانو کښې د خپل تخلیقي جوهر او شاعرانه صلاحیت نه پوره پوره کار اخستے دے او د افسانې هیئتي اړخ په ښکلا کښې یې غیر معمولي اضافه کړې ده.

د همېش صاحب په ځینو افسانو باندې د فېکشن نقادانو تنقیدونه هم کړي دي چې وروستو بیا د هغو مدلل ځوابونه هم شوي دي.

د همېش خلیل په افسانو د تنقید ابتدا د "چارګل" د سریزه نګار ښاغلي فضل حق شېدا د دې رائې نه شوې ده چې وئېلي ئې دي:

"دا وړې قیصې یا افسانې ډېرې وړې دي. شاېد ځینې نقادان به ورته افسانې و نهٔ وائي".(2)

د فضل حق شېدا مرحوم دغه تنقید اول خو په همدغه سریزه کښې د هغهٔ له خپلې رائې سره رد کېږي چې وائي:

"افسانه یو فن دے ........ وړه افسانه هم وي او اوږده هم".(3)

او بیا ډاکټر اعظم اعظم چې په خپل کتاب "پښتو افسانه تحقیق او تنقید" کښې د همېش خلیل په افسانو کومه تبصره کړې ده. په هغې کښې د شېدا صاحب د دغه تنقید مرسته نهٔ ده شوې. هغه لیکي:

"لنډوالے او اوږدوالے د افسانې د فن معیار نهٔ دے. افسانه په خپلو فني حدونو کښې د لوئې نه لویه هم کېدے شي او د وړې نه وړه هم".(4)

د فضل حق شېدا مرحوم د دغه تنقید په جواب کښې حنیف خلیل د همېش صاحب په افسانو په دې ټکو تبصره کوي:

"زما په خيال د افساني په حقله دا قسمه خبري کول زمونږ د زوړ تنقيد عنعنه ده. د هغې وجه دا ده چې افسانه پښتو ته ډېره وروستو راغلې ده او ډېر لږ مزل ئې کړے دے. مرحوم شېدا صاحب هم د زړې مطالعې په رڼا کښې خپله رائې قائمه کړې ده چې د افسانې په حقله د تنقيد د ارتقائي رجحان له مخه نن څۀ خاص اهميت نۀ لري. ځکه چې اوس افسانې ډېر وسعت موندلے دے. د همېش صاحب په افسانو کښې اوږدې هم شته لکه "مينه" يا "وينه" او ډېرې وړې هم شته لکه "پښېماني" ولې نه خو دغه اوږدې افسانې څوك د افسانې د چوکاټ نه ويستے شي او نۀ لنډې. ځکه چې دغه افسانې په بنيادي لوازماتو تر اخره حده پوره دي. وړې او اوږدې افسانې انګرېزي ادب کښې هم ليکلې شوې دي. چې انګرېزي نقادان ورته شارټ، شارټ سټوري (Short Short Story) او لانګ شارټ سټوري (Long Short Story) وئيلې دي. د افسانې د سحر کارۍ راز په لنډوالي کښې ګڼلے شوے دے او که مونږ غور وکړو نو رښتيا هم په وړه افسانه کښې ټول لازم عناصر په ځائې را وړل ګران کار دے".(5)

د همېش خليل د افسانو په حواله د حنيف خليل دې خبرې سره خو اتفاق کېدے شي چې د همېش خليل افسانې د لنډوالي او اوږدوالي دواړو نمونې لري او دواړه ئې په فني لحاظ پوره دي. ولې دا خبره ئې د منلو وړ نۀ ده چې افسانه پښتو ته ډېره وروستو راغلې ده. که وکتے شي نو د شلمې صدۍ په وړومبۍ لسيزه کښې افسانه د انګرېزۍ له لارې اردو ته داخله شوه. او بيا د اردو له لارې پښتو ته افسانه راغله. د قلندر مومند د تحقيق تر مخه جے جې لوريمر چې په پښتنو کښې د لرم پېرنګي په نوم مشهور ؤ د پښتو اول افسانه نګار دے چې افسانه ئې په کال 1902ء کښې د کلکتې نه چاپ شوې ده. د پښتو تنقيد نګاران د لوريمر بې عنوانه افسانه په فني لوازماتو پوره افسانه نۀ ګڼي. ځکه ټول نقادان په يوه خولۀ د راحت زاخيلي افسانه "کونډه جينۍ" چې په کال 1917ء کښې چاپ شوې ده، د پښتو اوله افسانه ګڼي.

دا افسانه په فني لوازماتو بېخي مکمله او معياري افسانه ده او دا هغه وخت ؤ چې په اردو ادب کښې هم افسانه د خپل سفر په ابتدائي پړاوونو کښې وه. په اردو کښې منشي پريم چند په کال 1905ء کښې د "دنيا کے انمول رتن"

پـه نـوم افسـانې سـره د باقاعـده افسـانه نګـارۍ ابتـدا کـړې ده او بيـا دغـه دور کښې سجاد حېدر يلدرم هم افسانې ليکلې دي.

دغـه دور نـه لـږ وروسـتو پښـتو کښـې د معيـاري افسـانه نګـارۍ ابتـدا شـوې ده چې تر اوسه ئې ښهٔ کافي مزل کړے دے.

د فضـل حـق شـېدا صـاحب لـه خـوا د همـېش خليـل د افسـانو پـه لنـډوالي د اعتـراض پـه جـواب کښـې ښـاغلي اسـير منګـل هـم خپلـه رائـې ورکـړې ده او شـېدا صاحب سره ئې اتفاق نهٔ دے کړے. هغه ليکي:

" خـدائې زده چـې فضـل حـق شـېدا دغـه خبـره څنګـه کـړې ده. ګنـې د افسـانې يوه ښکلا د اختصار ده چې لږو ټکو کښې د کار خبره وشي".(6)

پـه لـږو ټکـو کښـې د کـار خبـره کـول يقينـاً چـې د يـو اوچـت فنکـار کـار دے. ځکـه چې اختصـار د افسـانې عېـب نـه بلکـې خـوبي ګـڼلے شـي. پـه نـورو ټکـو کښـې بـه دا ووايـم چـې اختصـار د افسـانې هغـه بنيـادي سـتن ده چـې د افسـانې عمـارت ته نوره هم ښکلا او ځلا بخښي.

د همـېش خليـل افسـانې پـه يـوه ښـکلې ادبـي او لطيفـه ژبـه کښـې ليکلـې شـوې دي. خـو د هغـهٔ دغـه رنګـين بيـانۍ او د ژبـې شـاعرانه بيـان هـم د ځينـو نقـادانو د تنقيـد پـه زد کښـې راغلـے دے. د دغـه تنقيـد ابتـدا هـم د فضـل حـق شېدا صاحب د سريزې نه کيږي. هغه ليکي:

"د ژبـې متعلـق بـه زهٔ دا ذکـر وکـړم چـې دا سـاده، پسـته او خـوږه ده. هـره فقـره کښـې خوندناک تشبيهات دي. خو کاش! چې د "لکه چې" تکرار بيا بيا نهٔ وې شوے".(7)

ښاغلے پروفېسر اسير منګل د دغه تنقيد تائيد کوي او وائي:

"دا خبـره موزونـه ده چـې د "چارګـل" پـه افسـانو کښـې د "لکـه چـې" تکـرار خوند نهٔ کوي".(8)

ډاکټـر زبېـر حسـرت د همـېش خليـل د افسـانې "ډيـوه مـړه شـوه" پـه حوالـه د همېش صاحب د افسانوي ژبې په حقله ليکي:

"ډيـوه مـړه شـوه" کښـې افسـانه نګـار مـونږ تـه ګـل ځـانګې (چـې وروسـتو بيـا ځانګـه شـوې ده) او د هغـې د کـور د غريبـۍ د لنـډ تنـګ ژونـد قيصـه پـه ډېـره ښائسـته پېرايـه او شـاعرانه ژبـه کښـې بيـانوي چـې د خپـل تخيلـي قـوت نـه ئـې پکښـې پـوره کـار اخسـتے دے او د مختلفـو تشـبيهاتو، اسـتعاراتو او

علامــاتو اســتعمال ئــې پــه ډېــر ارت مــتې کــړے دے. داســې چــې د قیصــې مقصدیت ئې پرې مجروح کړے دے".(9)

د دغــه نقــادانو پــه رایــو ســره د دې چــې د همــېش صــاحب د شــاعرانه ژبــې ستائینه هــم شــوې ده. خــو ولــې بیــا هــم دا وائــي چــې پــه دغــه شــاعرانه ژبــه ئــې د افســانې مقصــدیت مجــروح کــړے دے. زمــا پــه خیــال د تخلیقــي صــنفونو او بیــا خصوصــاً د افســانې دپــاره د ژبــې ســوچه والــے، روانــي او بیــا ادبــي، لطیفــه او رنګینــه ژبــه عیــب نــۀ دے، بلکــې هنــر دے او دا خبــره ډاکټــر اعظم اعظم مني هــم. ســره د دې چــې هغــه د همــېش صــاحب د افســانو نقــاد هــم دے. خــو ولــې د هغــۀ د افســانې ژبــه ئــې هــم ســتائېلې ده. بلکــې دا ئــې د همــېش صــاحب د افســانو د ټولــو نه لویه خوبي ګڼلې ده. اعظم صاحب لیکي:

"د "چارګـل" پـه افسـانو کښـې د ټولـو نـه لویـه خـوبي د ژبـې او بیـان ښـکلا ده پـه نثـر کښـې بـه دومـره رنګینـه او شـاعرانه منظـر کشـي پـه ډېـرو کمـو لیکونـو کښې راغلې وي".(10)

د ډاکټـر اعظـم اعظـم رائـې ځکـه زیـات وزن لـري چـې هغـه پخپلـه د نقـاد سـره سـره تخلیـق کـار هـم دے او نثـري لیکونـو کښـې د ژبـې ښائسـت او خـوبي د ورانـدې ذکـر شـوو نقـادانو نـه ښـه پېژني. دې نـه عـلاوه د افسـانوي ادب پـه نقـادانو کښې د اعظم صاحب د مقام او معیار نه څوک سترګې نۀ شي پټولے.

د همـېش خلیـل د افسـانو دغـه خـوبۍ او فنـي ښـکلا بانـدې ښـاغلي حنیـف خلیل هم تبصره کړې ده:

"د ژبـې پـه حقلـه بـه ئـې دومـره ووایـم چـې د ټولـو افسـانو ژبـه ئـې ګلـداره او شـاعرانه ده. د تشـبهیاتو او علامتونـو نـه ئـې کـار اخسـتے دے او ډېـره پـه لطیفـه پېرایـه کښـې ئـې خپـل پېغـام ورانـدې کـړے دے. دغـه ګلـداره او شـاعرانه ژبـه کـه یـو خـوا د همـېش صـاحب پـه فنـي او شـعري ذوق دلالـت کـوي. نـو بـل خـوا وربانـدې ځینـې تنقیدونـه هـم کېـدلے شـي. مـثلاً دا چـې د افسـانې ژبـه د کـردار مطـابق وي. کـردار کـه د چـا عـالم یـا هوښـیار وي نـو ژبـه بـه ئـې هـم علمـي او د اوچتـې سـطحې وي او کــه کــردار د نالوســتي، ناپوهــه او ماشــوم، لېــوني یــا دغســې د لانــدې سـطحې وي. نـو ژبـه بـه ئـې هـم د لانـدې درجـې وي او بیـا کـه کـردار د یـو لیکـونکي یـا شـاعر وي نـو ژبـه ئـې هـم شـاعرانه پکـار ده. ولـې د همـېش خلیـل پـه ټولـو افسـانو

کښــې ژبــه شــاعرانه ده او د ځينــو افســانو ژبــه ئــې عامــه، کليوالــه او ســاده ژبــه ده. دلتــه يــو قسم لــه تضــاد پېدا کيږي. ځکــه چې پــه ځينــو افســانو کښــې خــو ئــې داســې هــم شــوي دي چــې پــه يــوه افســانه کښــې ژبــه هــم شــاعرانه وي او هــم ســاده او کليوالــه. لکــه "ډيــوه مــړه شــوه" نــومې افســانه داســې ده چــې ژبــه ئــې هــم شــاعرانه ده او هم کليواله.

زمــا خيــال دا دے چــې د همــېش خليــل ژبــه ځکــه شــاعرانه ده چــې د دوئ اکثــرې افســانې بيانيــه دي او د کــرداري ژبــې خيــال پــه مکالمــاتي افســانه کښــې ســاتلے شــي. خــو پــه بيانيــه افســانه کښــې هــم دا خيــال ســاتل پکــار دے چــې کــه ليکــونکے پــه قيصــه کښــې شــريك وي. نــو بيــا د خپــل حېثيــت او مــزاج مطــابق طــرزِ بيــان او ژبــه پکــار ده يعنــي ليکــونکے کــه د يــو شــاعر پــه حېث پــه قيصــه کښــې خپلــه برخــه لــري، نــو ژبــه بــه ئــې ضــرور شــاعرانه وي او کــه ليکــونکے محــض يــو عــام راوي وي نو بيا ژبه د خپل مقام مطابق پکار ده".(**11**)

د دغــه پورتنــو حوالــو او بحــث نــه دا نتيجــه را ووځــي چــې د همــېش خليــل افســانې چــونکې زيــاتې پــه بيانيــه انــداز کښــې ليکلــې شــوې دي او د هغــهٔ خپــل مــزاج ډېــر شــاعرانه او تخليقــي دے. ځکــه د هغــهٔ پــه نثــر عمومــاً او پــه افســانه ئــې خصوصــاً د ادبــي او شــاعرانه ژبــې اثــر خــور دے چــې د نثــري او افســانوي ژبــې خوبي گڼلے شي.

د ژبــې نــه عــلاوه د همــېش خليــل د افســانو بلــه خــوبي د هغــهٔ منظــر کشــي او کــــردار نګــــاري ده. منظرکشــــي او کردارنګــــاري دواړه پــــه يــــو ځــــائې ذکــــر کــــول ضــروري دي چــې همــېش صــاحب د خپلــو جانــدارو کردارونــو پــه ذريعــه منظرکشــي کــوي. منظــر کشــي پــه داســې انــداز کــوي او د افســانو کردارونــه پــه داســې شــکل وړانــدې کــوي چــې لوســتونکي يــا اورېــدونکي پــه خپــل گرفــت کښــې اخلــي، د ډاکټر اعظم اعظم په قول:

"دا ښائســته منظرکشــي کلــه د يــو مــاحول او منظــر پــه بيــان کښــې او کلــه د يــو کردار په تشريح کښې د سترګو وړاندې راځي".(**12**)

او بيــا د همــېش خليــل د افســانې "ننــاں ميــاں" د مرکــزي کــردار ننــا ميــاں تصويرکشــي او ښائســته خاکــه راښــکل د همــېش خليــل د فنــي گرفــت ثبــوت ښــائي چې ډاکټر اعظم اعظم ئې په دې ټکو اعتراف کوي:

"ننا میاں" کښې د ننا میاں کردار یو عجیبه او نابلده (کم از کم د پښتو افسانې د ماحول تر حده) غونډې کردار دے. خو د "چارګل" په ټولو کردارونو کښې که په ذهن باندې څۀ نۀ ورانېدونکې خاپې پرېږدي. نو هغه هم دا کردار دے. د دې ګمنامه انقلابي د سیاسي نظربندۍ په شا چې کوم سیاست پروت دے. د هغې پته خو به د افسانې لیکوال ته وي. کومو شوخو، مستو او ژوندو رنګونو کښې چې د دې کردار کړۀ وړۀ زمونږ تر وړاندې راځي. د هغې د ستائیلو نه بغېر بله لار نشته او فنکار په بیانیه انداز کښې د فن انتهائي حدونو ته ډېر ور جخت شوے دے". (13)

په دغه افسانه ډاکټر زبېر حسرت په دې ټکو تبصره کوي:

"د خپلو منفرد کردار، د جېل مخصوص ماحول، بهترینې منظر نګارۍ، سیاسي پس منظر او خوږې ژبې او بیان له رویه "ننا میا" موږ د همېش صاحب په ښو افسانو کښې شمېرلے شو". (14)

د همېش خلیل د افسانو په فني او تېکنیکي لوازماتو کښې د ژبې او کردار نګارۍ نه علاوه چې کوم توکے زیات ښکاره دے او کوم چې د افسانوي ادب دپاره زیات ضروري دے، هغه د واقعاتو په بیان کښې د سسپنس ساتل دي. ښکاره خبره ده چې د واقعاتو د ترتیب او تنظیم نه د یوې افسانې یا افسانوي ادب د هر صنف پلاټ رغولے شي. کله چې د پلاټ د رغاونې په وخت واقعات په داسې انداز بیان کړے شي چې د لوستونکي یا اورېدونکي توجه په ډېره غټه پېمانه ځان ته جذب کړے شي. نو په دې موقع سسپنس سر ښکاره کوي او د نکتۀ عروج د مرحلې نه پس لوستونکو ته نتیجه، پېغام او سبق ورکوي چې د افسانوي ادب بنیادي مقصد ګڼلے شي. د همېش خلیل په افسانو کښې د نکتۀ عروج (کلائمکس) او سسپنس په حقله ښاغلے حنیف خلیل وضاحت کوي او لیکي:

"په ځینو افسانو کښې کله کله داسې هم کیږي چې د افسانې د نوم نه سسپنس شروع شي او تر اخره برقرار وي او بیا د افسانې د ختمېدو نه پس یو نوے سسپنس شروع شي. لکه "ډیوه مړه شوه" کښې چې شوے دے. هم دغه مقام دے چې نقادان د کلائمکس نه پس د اینتهي کلائمکس خبره کوي. خو دغه اینتهي کلائمکس د افسانې په مېنځ کښې د دوېم سسپنس په شکل کښې

لېدلے شي. په دغه شرط که د کلائمکس او اينتي کلائمکس او بيا د سسپنس په حقله غور کوو نو معلومه به شي چې دا ځيزونه په ډرامه او خصوصاً په ناول کښې ښهٔ ځائېدلے شي. نو دغه عمل د افسانه نګار په استاذئ ګواهي ورکوي او په دې کښې هيڅ مبالغه نشته چې همېش خليل له دغه استاذئ نه په ډېرو موقعو کار اخستے دے".(15)

د همېش خليل په افسانو کښې د سسپنس نسبت حنيف خليل د يو بل افسانوي تېکنيک وحدت تاثر سره تړي او د همېش خليل د افسانو په حواله ئې وضاحت کوي هغه ليکي:

"ممکنه ده چې په افسانه کښې دغه وحدت هم په يو وخت کښې ختم شوے وي. خو دا امکان ځکه بعيد دے چې څومره وخت تېرېږي. نو افسانه مختصر کېږي او څومره چې افسانه مختصره وي د تاثر وحدت پکښې نهٔ شي ماتېدے. د همېش خليل د افسانو وحدت تاثر د هغو د افسانو سسپنس ته هم تقويت ورکړے دے او زما په خيال دا هم د يو ښهٔ افسانه نګار خصوصيت وي چې په يوه افسانه کښې ګڼ شمېر فني توکي په داسې انداز په ځائې راولي چې د افسانې مجموعي جوړښت پرې ښائسته کړي".(16)

د پورته شوي بحث او د نقادانو د حوالو نه پس مونږ دې نتيجې ته رسو چې د همېش خليل د افسانو په فن تېکنيک او جوړښت اګرچې ځينو نقادانو نيوکې هم کړې دي. خو ولې اکثرو نقادانو ئې د افسانې فن او انداز ستائېلے دے او مونږ دا وئېلے شو چې په فني او تېکنيکي لحاظ د همېش خليل افسانې د خپل وخت نمائېندده او په فن او تېکنيک پوره افسانې دي چې د راتلونکو افسانه نګارانو دپاره د سنګِ ميل حېثيت لري.

## د "چارګل" موضوعات

د همېش خليل د افسانو په موضوعاتو که خبره کوو نو وړومبے خو د هغهٔ په افسانو کښې لړے برے، د سرمايه دارانه طبقې مخالفت او د مظلوم اولس مرسته زمونږ مخې ته راځي. بيا ورسره د پښتنو د اولسي او په خصوصي توګه د سياسي ژوند يوه نقشه هم پکښې برخېره کېږي. هم دغه قسمه موضوعات د مقصدي ادب او ترقي پسند سوچ ترجماني کوي.

همېش خلیل چې په کوم دور کښې افسانې لیکلې دي هغه د پښتون اولس د سیاسي او سماجي غورځو پرځو زمانه وه. او ورسره په عالمي سطح هم د استحصالي قوتونو خلاف د دې پښتون دانشور قلم ښه په شدت سره چلېدلے دے. هم دغه وجه ده چې همېش خلیل صاحب هم د خپل چاپېریال نه اثر اخستے دے او یو خوا ئې په شاعرۍ کښې د دغه سیاسي ماحول او طبقاتي لړي برې ځرګندونه کړې ده، نو بل خوا ئې په خپلو افسانو کښې بنیادي موضوع هم دغه سیاسي او سماجي حالات ګرځولي دي. په موضوعاتي حواله همېش خلیل پښتو افسانې ته ډېرې بخښنې کړې دي. دۀ چې په کوم دور کښې افسانې لیکلې دي. د هغه دور سیاسي او سماجي ماحول د دۀ د افسانو دپاره مواد فرهم کړي دي. او د فېکشن د یو باشعوره لیکوال په حېث ئې د خپلې ټولنې د وګړو د راویښولو او شعور ورکولو دپاره خپل کردار ادا کړے دے.

ښاغلے همېش خلیل د خدائي خدمتګار او ترقي پسند تحریك یو متحرك غړے پاتې شوے دے. ځکه ئې د افسانې په موضوعاتو کښې ترقي پسند رجحان او مقصدیت ډېر واضح او جوت دے. هغه چې په کوم زاویه نظر خپلې ټولنې ته ګوري او د نظام د بدلولو کومه خبره چې په افسانوي پېرایه کښې کوي نو مونږ وئېلے شو چې همېش خلیل د مقصدیت ستر علمبردار دے چې د خپل مقصد دپاره ئې د افسانې غوندې ګران فن انتخاب وکړو او افسانه ئې ژوند ته زیاته راجخته کړه. ځکه خو ډاکټر اعظم اعظم وئېلي دي چې:

"د "چارګل" د افسانو په بنیاد کښې هم هغه مقصدیت، سیاسي او نظریاتي شعور پروت دے کوم چې د ماسټر عبدالکریم او میر مهدي شاه مهدي د افسانو سره تړلے ښکاري".(17)

اعظم صاحب په خصوصي توګه د ماسټر عبدالکریم او میر مهدي شاه مهدي نومونه په دغه حواله ذکر کړي دي. خو که د پښتو افسانې د دغه دور په موضوعاتو نظر واچولے شي نو د سیاسي، نظریاتي او سماجي شعور ترجماني په دغه دور کښې اکثرو افسانه نګارانو کړې ده لکه اجمل خټك، ولي محمد طوفان، قلندر مومند، طاهر اپرېدي، ګل افضل خان وغېره. خو په دغو کښې قلندر مومند، همېش خلیل، میر مهدي شاه مهدي، اجمل خټك، ولي محمد طوفان او ماسټر عبدالکریم داسې لیکوالان دي چې نېغ په نېغه د سیاسي

تحریکونــو خصوصــاً خــدائي خــدمتګار تحریــك ســره تړلــي وو او د خــدائي خدمتګار تحریك سره وابسته افسانه نګارانو په افسانو کښې د طبقاتي لري بري او ترقي پسند سوچ نمائېندګي ډېره واضحه ده.

ښاغلي عظمت هما په خپل کتاب "اردو اور پشتو کے نمائندہ افسانے (تقابلي جائزہ") کښې د موضوع په حواله د پښتو د ستر افسانه نګارانو سره د همېش خلیل ذکر په دې ټکو کوي:

"قلندر مومند، میر مهدی شاه مهدی، حسن خان سوز، همیش خلیل او نادرخان بزمی قیام پاکستان کے بعد ابھرنے والے وہ افسانہ نگار ھین جنکے ترقی پسندانہ سوچ اور اردو افسانے کے گھرے مطالعے نے ان سے سماجی، سیاسی اور رومانوی موضوعات پر بھترین افسانے لکھوائے."(**18**)

همېش خلیل هم په دغه افسانه نګارانو کښې یو ښکاره نوم دے چې په دغه موضوع ئې افسانې لیکلې دي. د هغۀ د افسانو په مقصدیت ترقي پسندۍ او سیاسي شعور په ترجمانۍ د څو نقادانو حوالې دلته پېش کوم چې ورسره د همېش خلیل د افسانو د دې نمائېندہ او ښکاره موضوع څرګندونه وشي. حنیف خلیل په دې حقله لیکي:

"د همېش صاحب د ټولو افسانو موضوعات د مقصدي ادب علمبردار دي او انداز ئې د رومانوي ادب نشاندهي کوي ...... عموماً مقصدیت او رومانویت یو د بل نه لرې پاتې شوي دي او که کوم ادیب په خپل لیك کښې د دغو دواړو امتزاج کړے دے نو دغه انداز لیکونکي ته انفرادیت نه علاوه آفاقي حېثیت هم بخښلے دے.

د همېش صاحب په افسانو کښې دغه دواړه توکي څکه یو ځائې شوي دي چې یو خو د دوئ شخصیت او روح شاعرانه او تخیلي دے. ولې حالاتو ورته داسې ورځې هم ښودلې دي چې قلم ئې پخپله د مقصدیت په لور تلے دے. دوئ دا ټولې افسانې د قېد و بند په دوران کښې لیکلې دي او بیا په بندي خانه کښې ورسره سېد مهدي شاه مهدي، اجمل ختك، حسېن بخش کوثر، ارباب سکندرخان خلیل، خانمیر هلالي، فضل رحیم ساقي او سعات خان جلبل غونډې حقیقت پسند او د مقصدي ادب علمبردار ملګري هم وو...... دغه افسانې د قېد و بند د ماحول پېداوار دي. دې خبرې ته مرحوم فضل حق

شېدا هم اشاره کړې ده خو همېش صاحب ورسره دا وضاحت هم کړے دے چې د اکثرو افسانو پلاټونه د مخکښې نه د دوئ په ذهن کښې وو او يو نيم پلاټ ئې د بندي خانې له ماحول نه اخستے دے. او هر کله چې د بندي خانو ماحول او د نادارو مرستې دوئ ته د حقيقت پسند او مقصدي ادب لارې د مخکښې نه ښودلې وې. نو ځکه ئې په افسانو کښې هم دغه تاثر جوت دے. بيا خصوصاً "ډيوه مړه شوه" "چارګل" ننها مياں" او "وينه" ئې داسې افسانې دي چې هم ئې موضوعات ژوندي دي. هم ئې کردارونه ژوندي دي. او هم ئې ماحول ژوندے دے".(19)

حنيف خليل د همېش صاحب د افسانې "ډيوه مړه شوه" حواله په خصوصي توګه ورکوي او ليکي:

"د موضوع په لحاظ همېش خليل صاحب دومره حقيقت پسند، د غريبو او نادارو ملګرے او سرمايه دارانه نظام خلاف دے چې د افسانې تشبيهاتي رنګ کښې هم خپل پېغام داسې پېش کوي چې د سرمايه دار او نادار د کشمکش څرګندونه ترې وشي. د مثال په توګه د دوئ د افسانې "ډيوه مړه شوه" دا ابتدائيه وګورئ:

"او څۀ وخت چې ګل ځانګې ډکه غېږ شمخه اخور کښې واچوله نو د ګوارې پاتې سره او برګه اچې. غوا پرې داسې را پرېوتې لکه د نرۍ زورور چې د کمزورو غوښې خوري".(20)

د "ډيوه مړه شوه" په حقله هم دغه تبصره پروفېسر زبېر حسرت هم کړې ده. يوه حواله د زبېر حسرت هم را نقل کوم:

"د طبقاتي کشمکش نه ډکه دا افسانه هلته شروع کيږي د دغې سوچ او د نظرئې نه چې سره غوا او برګه غوا پکښې د علامتونو په طور مخې ته راځي او څۀ وخت چې ګل ځانګې ډکه غېږ شمخه ....... ".(21)

ښاغلے پروفېسر اسير منګل د دې افسانې په حقله ليکي:

"د "چارګل" وړومبۍ افسانه "ډيوه مړه شوه" ده. په دې لنډه قيصه کښې د استحصالي قوتونو غندنه شوې ده . . . . . . . دغه افسانه د سرمايه دارانه نظام په مخ يوه درنه څپېړه ده".(22)

د همېش خلیل افسانې عموماً د دغه ترقي پسند سوچ نه چاپېره چورلي خو په هره افسانه کښې ئې د مقصدیت سره سره یو داسې مجموعي تاثر پرېښیښے دے چې لوستونکي په خپل ګرفت کښې اخلي. دلته د هغهٔ د ټولو افسانو خلاصې یا نمونې ورکول ممکن نهٔ دي البته دومره بهووایم چې ښاغلي زبېر حسرت ئې په خپله مقاله "چارګل پرې پرې" کښې د ټولو افسانو خلاصې پېش کړې دي چې تقریباً د ټولو موضوعاتو هم د مقصدیت او د ترقي پسند ادب ترجماني کوي.

## مجموعي تبصره

د همېش خلیل د افسانو فني او فکري اړخونو باندې پورته تفصیلي بحث وشو. ولې دا هم جوته ده چې د هغهٔ افسانې د ځینو تنقیدونو په زد کښې هم راغلې دي. د همېش خلیل په افسانو کښې د تنقید وړومبۍ نخښې د "چارګل" دیباچه نګار فضل حق شېدا د تاثراتو نه جوتي دي. سره د دې چې د فضل حق شېدا د تنقید جوابونه هم شوي دي.

دې نه علاوه د همېش خلیل په افسانه نګارۍ دا قسمه تنقیدونه زبېر حسرت هم په خپله مقاله "چارګل پرې پرې" چې د ښاغلي شبېر احمد خلیل مرتبه "هر بلبل به دي ثنا کا که تهٔ ګل شې" کښې کړي دي چې د ذکر شوي کتاب مرتب شبېر احمد خلیل ئې د دغو تنقیدونو جوابونه هم کړي دي. خو بیا هم د ځینو نیمګړتیاوو باوجود مونږ دا وئېلے شو چې د همېش خلیل افسانوي مجموعه "چارګل" د خپل وخت په بنیادي افسانوي مجموعو کښې یوه مجموعه ده چې د پښتو را روانو افسانه نګارانو ته ئې تحریك ورکړے دے او د افسانوي ادب د محققینو او نقادانو د توجه مرکز جوړه شوې ده. د همېش صاحب په دې مجموعه کښې شاملې ټولې افسانې په مختلفو فني او فکري حوالو تاریخي حېثیت لري او د فېکشن په مېدان کښې د سنګ مِیل کار ورکوي. د هغهٔ د افسانو په حقله ډاکټر اعظم اعظم د پي ایچ ډي مقاله "پښتو ادب کښې کردانګاري" کښې لیکي:

"د دې افسانو تنه بوده د خپل خوا و شا د خواږو تراخو حقیقتونو سره تړلې ده او کردارونه ئې هم په خپل پښتني چاپېرچل کښې زېږېدلي کردارونه

ښـــکاري. خـــو د مقصـــديت او اوپـــره جـــذباتيت رنـــګ پـــرې ډېـــر خـــور او غالـــب ښکاري". (23)

ښاغلے تاج سعيد ليکي:

"همـېش خليـل نـے شـاعری اور تحقيـق کـے عـلاوه افسـانے بھـی لکھـے هـين اور افسـانوی ادب مـين اپـنے لـئے ايـك خـاص مقـام بھـی بنايـا هـے. همـيش کـے افسـانے معاشـرے کـی ترجمـانی کـے فـرائض بخـوبی ادا کـرتے هـين. اسـلئے کـه همـيش کـا تعلـق پشـتو ادب اور پشـتون کلچـر کـے ساتھـ بهـت پرانـا هـے. اور وه جانتـا هـے کـه پشـتون معاشـرے کـی اصـلاح کـے فـرائض کيسـے انجـام دئـے جـا سـکتے هـين. اسـکے افسـانون کـا مجموعـه "چارګـل" اسـکی نمائنـده تخليقـات کـا انتخاب هے". (24)

پروفېسر اسير منګل په خپله مجموعي تبصره کښې ليکي:

"چارګـل کـے افسـانوں نـے اس دور مـين پشـتو افسـانے مـين انقلابـی تبـديلياں لائـين. همـيش خليـل نـے جس جـوش اور جـذبے کـے تحـت يـه افسـانے لکھـے هـين. وهـی جـوش اور وهـی جذبـه آج بھـی ان کهـانيوں کـے پسِ منظـر مـين دکھـائی ديتـا هـے، جهـاں کهـين بھـی پشـتو افسـانے کـا تـذکره کيـا جـائے گـا تـو لامحالـه ان کـا نـام نهايـت هی احتـرام سے ليـا جـائے گـا. اور انکـے افسـانے مثـال کـے طـور پـر پيـش کـئے جـائين گـے. جنهـوں نـے نـه صـرف پختونـوں مـين افسـانه نويسـی کـا رجحـان پيـدا کيـا. بلکـه انهـين زندگی کے بارے مين ايك تنقيدی شعور بھی ديا). (25)

ډاکټر سېد چراغ حسېن شاه ليکي:

"د همـېش خليـل افسـانې هـم د خوبونـو هغـه تعبيرونـه دي چـې حقيقـت تـه ئـې لېوالـه دے. پښـتو ادب کښـې د دوئ د افسـانو جديـد انـداز د دوئ د فکـري رنګينـۍ او جـدت هغـه صـفت دے چـې د ادب هـر بلبـل ئـې ثنـا خـوان دے. رنګـين او تللـي الفـاظ پـه حسـينو دائـرو کښـې پـه زړونـو اثـر انـداز کوونکـو کردارونـو سـره د افسـانې جـال هغـه پـه يـوه داسـې فنکارانـه اسـتاذۍ بـونې چـې لسـتونکي ئـې د شخصـيت پـه خـدوخال کښـې ورك شـي. د دلکشـو او زړه راښـکونکو الفـاظو سـره ښائسـته تشـبيهات د پاسـتۀ بـاران د پـونې غونـډې د هغـۀ لـه ذهنـه وريـږي. لنـډه دا چـې مصـور د کـوم شـاهکار تصـوير جوړولـو دپـاره کـوم کـار لـه رنګونـو اخلـي، هغـه

کار همېش خلیل له الفاظو اخلي او دې کښې هېڅ شك نشته چې ښائسته افسانې یو ښائسته ذهن تخلیق کولے شي".(26)

د نقادانو او محقېقینو د پورته ذکر شوو حوالو نه په واضحه توګه دا ښکاره شوه چې ښاغلي همېش خلیل په خپلو افسانو کښې د خپل چاپېرچل په زړۀ پورې عکاسي کړې ده، ورسره ورسره یې ژوندي او متنوع موضوعات دومره په فني پیرایه کښې وړاندې کړي دي چې د هغۀ په اوچتې فنکارۍ دلالت کوي، ځکه مونږ وئیلے شو چې د همېش خلیل افسانې د پښتو په افسانوي ادب کښې هغه مقام لري، چې د پښتو ادبي او افسانوي ادب تاریخ به ئې تل تر تله په خپلو پاڼو کښې یاد ساتي.

❁❁❁

# حوالې


(1) خلیل، همېش، چارګل، دارالتصنیف، پېښور، فروري 1973ء ص 6، 7.

(2) شېدا، فضل حق، سریزه چارګل، ص 13.

(3) ایضاً " ص 13.

(4) اعظم، محمد اعظم، پښتو افسانه، تحقیق او تنقید، عظیم پبلشنګ هاؤس خیبر بازار پېښور، جولائي 1976ء ص 158.

(5) خلیل، حنیف، همېش خلیل ژوند او فن، باګرام پښتو ادبي جرګه پېښور، اپرېل 1997ء ص 75.

(6) منګل، اسیر، د همېش خلیل افسانې، مشموله، هر بلبل به دې ثنا کا که تهٔ ګل شې، مرتبه شېراحمد خلیل، همېش ملګري پښتونخوا، پېښور، جنوري 2008ء ص 106.

(7) شېدا، فضل حق، سریزه چارګل، ص 15.

(8) منګل، اسیر، د همېش خلیل افسانې، مشموله، هر بلبل به دې ثنا کا که تهٔ ګل شې، مرتبه شېراحمد خلیل، همېش ملګري پښتونخوا، پېښور، ص 106.

(9) حسرت، زېبر، چارګل پرې پرې، مشموله، هر بلبل به دې ثنا کا که تهٔ ګل شې، ص 167، 168.

(10) اعظم، محمد اعظم، پښتو افسانه، تحقیق او تنقید، ص 159.

(11) خلیل، حنیف، همېش خلیل ژوند او فن، ص 65 تا 67.

(12) حسرت، زېبر، چارګل پرې پرې، ص 186.

(13) اعظم، محمد اعظم، پښتو افسانه تحقیق او تنقید، ص 159.

(14) ایضاً " ص 160.

(15) خلیل، حنیف، همېش خلیل ژوند او فن، ص 70.

(16) ایضاً " ص 71 تا 72.

(17) اعظم، محمد اعظم، پښتو افسانه تحقیق او تنقید، ص 158، 159.

(18) هما ، عظمت، اردو اور پشتو کے نمائندہ افسانے (تقابلی جائزہ) پشتو اکیدمی پشاور، ستمبر 2005ء ص 132

(19) خلیل، حنیف، همېش خلیل ژوند او فن، ص 59 تا 62.

(20) ایضاً " ص 62.

(21) حسرت، زبېر، چارګل پرې پرې، مشموله، هر بلبل به دې ثنا کا که تهٔ ګل شې، ص 168.

(22) منګل، اسیر، د همېش خلیل افسانې، مشموله، هر بلبل به دې ثنا کا که تهٔ ګل شې، ص 101.

(23) اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردارنګاري، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 1993ء ص 273.

(24) سعید، تاج، پشتو ادب کی مختصر تاریخ، مقتدره قومی زبان اسلام آباد، 1995ء ص 138.

(25) منګل، اسیر، پشتو افسانے کے سو سال، دانش کتب خانه پشاور، ستمبر 2002ء ص 39، 40.

(26) شاه، سېد، چراغ حسین، ډاکټر، همېش خلیل د یو محقق، شاعر او افسانه نګار په حېث، مشموله، د انځرګل، مرتبه، ګوهر رحمٰن راز ،د چاپ اداره نهٔ لري، اګست 1997ء ص 50.